د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
اطلاعاتو ته د لاسرسي کمیسیون

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون دسترسی به اطلاعات

Islamic Republic of Afghanistan
Access to Information Commission

## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹کال، د مرغومي ۳۰مه |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دفتر، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | د کمېسیون رییس او کمېشنر ښاغلی عین الدین بهادري |
| ګډونوال | د کمېسیون رییس ښاغلی عین الدین بهادري، د کمېسیون مرستیاله او کمېشنره آغلې نجیبه مرام، کمېشنره آغلې زهرا موسوي او د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت‌الله حیدري. |
| دغونډې تنظیمونکی | عصمت الله حیدري |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون (اونیزه) غونډه چې ۱۳۹۹کال، د مرغومي په ۳۰مه، دوشنبه د پورته ګډونوالو په شتون کې جوړه شوې و. په لاندې موضوعاتو بحث او د اندونو تبادله وشوه:

۱. **اطلاعاتو ته د لاسرسي ښوونیز لارښود:** اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون یوې واحدې او هر اړخیزې ښوونیزې لارښوونې «اطلاعاتو ته د لاسرسي لارښود» ته اړتیا لري. په دې هکله د بحثونو او آندونو تبادلې وروسته داسې پرېکړه وشوه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي ښوونیز لارښود به د لاندې برخو لرونکی وي؛ الف – د ملي او نړیوالو سندونو په رڼا کې اطلاعاتو ته د لاسرسي یو هر اړخیز پېژند ب – د کمېسیون پېژندنه او د دندو تشریح ج –د اطلاعات غوښتلو او ورکولو طریقه د – شکایتونو ته د رسېدنې طریقه. د دې کار لپاره د دارالانشا رییس، حقوقي او تخنیکي سلاکارانو او د عامه پوهاوي آمر په ګډون کمېټه جوړه او عملا په کار پیل کوي.

۲. **رسیدگی به شکایات:** درخصوص رسیدگی به شکایات واصله از وزارت امور داخله، وزارت مالیه و کمیسیون شکایت انتخابلتی نیز بحث و تبادل نظر صورت گرفته و ذیلاً فیصله به عمل آمد:

۳. **شکایتونو ته رسېدنه:** د کورنیو چارو وزارت، مالیې وزارت او ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون څخه د شویو شکایتونو ته رسېدنې په هکله هم بحث او لاندې پرېکړې وشوې:

- له کورنیو چارو وزارت څخه د پاسبانان رسنیزې ډلې شکایت په هکله پرېکړه وشوه چې د غوښتل شویو اطلاعاتو متن په کارپوهي ډول وڅېړل شي او هغه برخې چې د قانون له نظره د ارایې وړ وي، باید د کورنیو چارو محترم وزارت لخوا غوښتونکي ته ورکړل شي.
- له مالیې وزارت څخه د اطلاعات روز ورځپاڼې د شکایت په تړاو پرېکړه وشوه چې په دې برخه کې مالیې محترم وزارت، د یادو اطلاعاتو د ډلبندۍ په پار د کمېسیون د تخنیکي هیات غوښتونکی شوی دی. څرنګه چې دا موضوع په کمېسیون کې د انساني قوې د کمښت او هم د دې سکالو د حجم زیاتوالي له امله زیات وخت ته اړتیا لري. د اطلاعات روز ورځپاڼې یو صلاحیت لرونکي همکار سره جلسه ترتیب او بحث پرې وشي.
- د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون څخه د صبح کابل ورځپاڼې شکایت په هکله پرېکړه وشوه چې د کمېسیون د وروستي مکتوب په ځواب کې چې د دې ادارې د اطلاعاتو ډلبندي یواځې د خپلې ادارې واک دی، مکتوب واستول شي.

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.askforinfo.af www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳

۴. **ملت ته د دولت د حساب ورکولو پروسې څخه څارنه:** دا سکالو په دې پوښتنې چې آیا په دې پروګرام کې کمېسیون ګډون وکړي او که نه؟ پیل او بحث پرې وشو. په پای کې پرېکړه وشوه چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون دولتي څارونکي بنسټ په توګه په دې پروسه کې ورګډ وي. خو له دې پروسې څخه باید د کمېسیون لخوا د ترتیب شویو شاخصونو او معیارونو په رڼا کې څارنه وشي.

۵. **د کمېسیون د ستراتېژۍ د پښتو او دري نمونې وروستي کول:** دا چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون پنځه کلنه ستراتېژي د جي‌آی زیډ موسسې په همکارۍ تدوین او وروستۍ شوې او د ژباړې مسوولیت یې هم پر غاړه درلود. خو له بدمرغه چې د ستراتېژۍ پښتو او دري ژباړه د کمېسیون مشرتابه ته د منلو وړ نه وه. د کمېسیون د مشرتابه د هدایت سره سم، دا متنونه د بیا کتنې لپاره نومورې ادارې ته واستول شول او د وروستي ځل لپاره یې هم ستونزې لرلې. پر همدې بنسټ د کمېسیون د غړو لخوا پرېکړه شوه چې دري متن به ښاغلی عین الدین بهادري او پښتو متن باندې به تخنیکي سلاکار ښاغلی ولي الله مصباح بیا کتنه او وروستی یې کړي.

٦. **د مالي او حسابي آمریت نقدي معتمد:** څرنګه چې د مالي او حسابي آمریت نقدي معتمد د ګمارنې او نه ګمارنې ځانګړې ستونزه نه ده ښکاره شوې. په داسې حال کې چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون په پرلپسې ډول د بریالي شوي کس په ګمارنې ټینګار کوي. د کمېسیون غړو پرېکړه وکړه چې په عاجل ډول د یاد کمېسیون شکایتونو ته د رسېدنې بورډ سره یوه غونډه جوړه او دا ستونزه په هر اړخیز ډول حل کړي.

درنښت

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون رییس - عین الدین بهادري

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون مرستیاله - نجیبه مرام

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون کمېشنره - زهرا موسوي

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.askforinfo.af www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳